# د ملا عبدالسلام عشېزي په شاعره کښې تصوفي وړانګې

**Tasauf In The Poetry Of Mullah Abdul Salam Ashezai(1883-1974)**

عبدالرحمن کاکړ*
ډاکټر کليم الله برېچ•
صاحبزاده باز محمد♥

**Abstract:**

Mullah Abdul Salam Asheyzai was one of the intellectuals, writers, poets and thinkers of Pashto language. He had resisted against the then British rule, its policies and western culture. He not only had given national spirit to Pashtuns but also played due role as reformer of his time. He had openly challenged the nominal Pashtun customs and rituals caught root in Pashtun society through so-called peers (spiritual leaders) which badly damaged its structure.to pin point the widely known subject “TASAUF”in the poetry of eminent poet Mullah Salam Ashezai,of the Western Pashtonkhwa .it has also been discussed that which typw of “TASAUF ” and sufis,he favours.

د اوسنی قلعه عبدالله ضلعې، شېلاباغ غرۀ او ښاخه نامي کلي کښې له نن څخه اووه دېرش کاله مخکښې يو کلك پښتون، عالم دين، شاعر او مبارز ژوند کړی دی چې نن يې موږ او تاسي د ملا عبدالسلام عشېزي په نامه پېژنو.

د لويې پښتونخوا په شاعرانو او د دوئ په شاعري که موږ نظر واچوو نو په چڼ داسي کسان نۀ پيدا کېږي چې هغوئ دي په خپله شاعري کښې (سل په سله) د جام، ساقي، مجنون او ليلی پر ځای د خپل اولس و ستونځو ته نظر کړئ وي. خو د ملا عبدالسلام عشېزي ټوله شاعري سر تر پايه مقصدي ده او په رښتيا يې د اولس حق ادا کړئ دی. د ده شاعري دوه غټ اړخونه لري. يو ډول هغه اشعار دي چې ده د پښتني ټولني د اصلاح دپاره وئيلي دي. په يو شعر کښې وايي:

---

* په پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کښې ليکچرار دی.

• په هسټري څانګه کښې اسسټنټ پروفيسر او د هسټري څانګي بلوچستان پوهنتون چيئرمين دی.

♥ په اسلامک سټډيز ډيپارټمنټ کښې ليکچرار دی.

پښــــــتنو د خوبـــــه کښـــــېنئ دوړي راغلـــــــې
انګرېـــــزان و خـــــوارج ســـــو يـــــو ملـــــت (۱)

د دوئ ټــولنيزه، سياســي او مــذهبي اصــلاح دپــاره خپــل فکــر وړانــدي کــړئ دی. د وخت مخلص او د پښتـانه قام خواخوږی امير امان الله يې سياسي رهنما ښولئ دی.
دوئـم هغـه اشـعار دي چـي رزميـه بڼـه لـري او د وخـت د قـابض انګرېـز حکمـران پـه ضـد يـې وئيلـي دي. د دوئ مظـالم يـې راسربېره کـړي دي او د مغربـي کلتـور غندنـه يـې کـړې ده او د دې کلتـور څخـه بـې ځايـه متـاثره وګـړو تـه د هغـه نيمګړتيـاوي ور پـه ګوتـه کـړي دي. د سـامراج اساسـي مـرام يـې پـه ډاګـه ښـوولی دی چـي د پښـتـانه هيـواد ، کلتـور او قـدرتي معـدنياتو لوټولـو سـره د سـپېڅلي ديـن څخـه لـرې کولـو پـلان دی. لـه هـم دې سـوبه د ده کتاب "سوسن چمن" انګرېزانو ضبط کړئ او په اور يې سېځلی دی. لکه دی چي وايي:

فرنګــــي سوســــن چمــــن پــــه اور کښـــــې وا چــــاؤ
پــــه مــــا هــــم د ابــــراهيم مصــــيبت راغلــــئ (۲)

او مــلا عبدالســلام عشــېزی د ســهېلي پښــتونخوا لــومړی او تــر اوســه اخــري مبــارز دانشـور دی، د چـا خـلاف چـې داسـي عمـل شـوئ دی يـاني د ده افکـار د وخـت د حکمـران پـه نظـر کښـې دومـره خطرناکـه وو چـي لـه هغـه څخـه يـو انقلابـي صـورت حـال پيـدا کېـدائ شـو. ليکن د ده ګناه دا وه چي د پښتانه قام د راويښېدو ببرغ يې اخيستئ ؤ.
مـلا عبدالسـلام عشـېزی د پښـتني ټـولني د لاتجـو سـوب يـوازې پېرنګـی نـهٔ دی ګڼلـی بلکـې ځينـي پښـتانهٔ يـې هـم پـه دې ګنـاه تـورن ګڼلـي دي او د دوئ دوه مخيتـوب يـې هـم پـه اشعارو کښې ښکاره کړی دی.
د دهٔ پـه شـاعري کښـې بـېلا بېـل موضـوعات پـه نظـر راځـي خـو پـه دې مقالـه کښـې مـا د ملا عبدالسلام عشېزي په شاعري کښې د دهٔ تصوفي افکار په ګوته کولو هڅه کړې ده.
تصـوف چـي نړيـوال ارزښـت لرونکـې موضـوع ده. اساسـي مـرام يـې د قوميـت او مـذهب پرتـه د انسـانيت خواخـوږي، امـن او ورولـي ده . پروفيسـر صـادق پـه دې هکلـه پـه خپـل کتـاب "فارسـي شـاعري کـے عظـيم صـوفيائے کـرام" کښـې ليکـي: ترجمـه " تصـوف لـه صـديانو څخـه د دنيـائے انسـانيت هغـه نړيـوال غورځنـګ دی ، کـوم چـي د هـر مـذهب او

ملت انسانانو دیو بل دپاره د محبت، روغي، امن او ورولۍ پیغام یې ورکړئ دی... خو په دې کښې هیڅ شك نشته چي په اوسني پر مخ تللي وخت کښې مادي غوښتني یو لوی انساني ضرورت دی او دغه مادي غوښتني له انساني ضرورت سره هم اهنگ کول ضروري دي. خو دا خبره منل هم ضروري ده چي د مادیت زیاتوالی د دنیا د ړنګېدو یو لوی سوب دی.

په دې هکله د تیرو دوو نړیوالو نښتو ته که ځیر شو، نو په دې نتیجه رسو چي دا ټوله د مادیت د زیات پر مخ تګ له سوبه را مینځ ته شوي دي." (۳)

.تصوف یو داسي موضوع ده چي بیدار مغزه او پوه انسانانو دپاره ډېر څه په کښې دي.خو د دې په خورونه او تشهیر کښې اهل ادب ډېر لوئ لاس لري. د عربي ژبي څخه ونیسې تر ځیني یورپي او ټولو مشرقي ژبو په ادب کښې په نظر راځي. د فارسي ژبي لوی لوی شاعران لکه حکیم سنائی، خواجه فرید الدین عطار، مولانا جلال الدین رومي، حافظ شیرازي، معین الدین چشتي، او مولانا عبدالرحمان جامي پوري، د ټولو د شاعري لویه موضوع تصوف وه.

دغه ډول په شرق کښې لوی صوفیائے کرام او ادب پوهان په سوو کلونو مخکي تېر شوي دي خو پیغام یې داسي دی چي د نن۔ زمانې تر ټولو غټ ضرورت دی.

په سهېلي پښتونخوا کښې ملا عبدالسلام عشېزی هم په تصوف او د تصوف په ارزښت پوه دی ځکه په خپله شاعري کښې ځای په ځای د تصوف ارزښت راښیي. ملا عبدالسلام په دې عقیده دی چي دنیا د یوې داسي خوني په شان ده، په کوم کښې چي توره تیاره وي او د انسان په وجود کښې زړه د باطني علم په حواله د ټول زړه دپاره د مرکز حثیت لري. که چیري زړه له نوره ډك وي بیا د انساني ژوند دې دنیا ته د راتګ مرام تر سره شوئ دی. که داسي نه وي نو انسان په خساره کښې دی خو څوك چي په زړه ړانده وي، د دوئ دپاره باطن روښانه حکیمان شته، چي د تصوف په نړۍ کښې پیر، مرشد یا ګرو وایي. د هغو په صحبت خپلولو زړه په نور منور کیږي.

په سوسن چمن کښې یو ځای لیکي:

په شپه نه کیږي مزل د زړۀ بې څراغه
لکه قبر تیاره خونه ده دنیا
وسوسې زړې دننه شمعه وژني

ړونـــــد پــــه خـــاکي اچـــوي خپلــــه عصـــا
حاذقـــــان بــــاطن روښــــان حکيمــــان وايــــي
شــــته د مــــوږ څــــه د ړنـــدو ســــترګو دوا (۴)

د تـاريخ مطالعـه مـوږ تـه راښـيي چـي علمـائے ظـاهر تصـوف او صـوفيائے کرامـو تـه پـه ښـه سـترګه نـهٔ دي کتلـي. دهغـه سـوب پـه تصـوف کښـې د شـرك او خرافـاتو راننوتـل دي لـيکن ځينـي علمـائے کـرام پـه دې نظـر دي چـي تصـوف پـه قـران او احاديـث مبارکـه کښـې نشـته او بـل دا چـي تصـوف د اسـلام سـره يـو متـوازي ديـن حيثيـت خپـل کـړۍ دی .خـو د نبـي کـريم صـلی الله عليـه وسـلم او د صـحابه کرامـو پـه ژونـد کښـې د تصـوف نخښـې مونـدل د تصـوف د حقانيـت دپـاره کـافي دي. دا خبـره چـي تصـوف پـه قـران او حـديث کښـې ذکـر نشـته او د نبـی صـلی الله عليـه وسـلم پـه وخـت کښـې نـه ؤ، نـو د تفسـير، ترجمـې، قـرات،او احـاديثو علـوم پـه دې شـکل کښـې کلـه وو، کـوم چـي د خلفـائے راشـدين يـا د دوئ لـه دور څخه وروسته پيل شو.

مـلا عبدالسـلام عشـېزی د تصـوف پلـوي ؤ او د هغـو خلګـو پـام د تصـوف د پـاکو اوبـو خوا ته راګرځوي څوك چي تصوف ته په ښه نظر نهٔ ګوري. دی وايي:

ړانــــدهٔ ببرتــــه ځــــي د نــــوره څــــه پــــر پونــــدو
چــــا حـــــلال کــــوثر خطــــا کــــړۍ پــــه شــــراب (۵)

بل ځای ليکي:

اســـــم اعظـــــم جهـــــل نــــه اړوي پــــه علـــــم
روح لـــــه ښـــــايي مقامـــــات معنـــــوي دا
ګونــدي نــور بــه زمــا پــه نســل کښــې پيــدا شــي
مقـــــرب د عارفـــــانو مســـــاوي دا (۶)

له دې سره سره د يو محقق په څېر د تصوف تاريخي او ارتقائي سفر په ګوته کوي، په تاريخ اسلام کښې د تصوف نخښې او د نبي صلی الله عليه واٰله وسلم څخه وړاندې دور او د تصوف و پيل ته يې هم اشاره کړې ده. لکه چي وايي:

مارميت اذ رميت نفي ويني
اروحانو داسي زموږ قالوا بلی (۷)

د قرآن کريم ايت مبارك" ومارميت اذ رميت ولٰکن الله رمیٰ...."(8)

(8) القرآن، پاره 9، آيت 17.

ترجمه: او تاسو د خاورو څخه ډك موټ (پر کافرانو) نهٔ دی غورزولی بلکې هغه خو الله پاك پر دوئ غورزولی دی. د شعر په دويمه مصرعه کښې د قرآن مجيد و بل آيت مبارك ته اشاره شوې ده چي الله پاك فرمايلي دي: الست بربکم. ترجمه آيا زهٔ ستاسو رب نهٔ يم. نو ټولو اروحانو په يو وار ورته وويل چي "بلی" ترجمه بې شکه ته زموږ رب يې.

ملا عبدالسلام عشېزی زموږ پام د هغې وعدې و خوا ته را اړوي کومه چي د ټولو مخلوقاتو اروحانو په يو ځای له الله پاك سره کړې وه او د الله ربوبيت ته يې غاړه ايښې وه خو دې دنيا ته په راتلو سره يې هغه وعده هېره کړه.

نو په لوړ شعر کښې د نبي کريم صلی و يوه معجزه ته اشاره شوې ده. دا يې روحاني اړخ ګڼل کيږي.

عبدالسلام عشېزي د ټول انسانيت د غم خوار په حېث دا خواشني ښکاره کړې ده چي موږ په اجتماعي توګه له خپلې لارې چپ روان يو. په دې ډله کښې ځيني صوفيان هم دي.په تاريخ کښې ډېر داسې صوفيان موږ ته په نظر راځي چا چي د شريعت څخه رو ګرداني کړې ده." اسقاط الوسائط[1]" (10) باندي عقيده لرونکي دي او کله کله"

[1] د صوفياء يوه ټولی په دې عقيده دي چي صوفي دد معرفت و يو مخصوص ځای ته ورسيږي، له هغه څخه احکام شريعت ساقط شي.دا د اسقاط شريعت په ډول يو بله تصوفي نظريه ده.

شطحات[2] "(11) هم د دوئ څخه څرګند شوي وي، په دوئ ځينې علماء لکه ابن حزم رحمه الله امام ابن جوزي رحمه الله ابن تيميه رحمه الله ابن قيم رحمه الله او نورو د کفر فتواوې لګولې دي. ځينې علماء لکه امام غزالي رحمه الله امام قشيري رحمه الله او جنيد بغدادي رحمه الله ليکي چې دا کلمات د سکر په حالت کښې ويلې شوي دي او په سکر کښې دوئ ته د هيڅ تميز نۀ وي ځکه ماخوذ يې نۀ ګڼي. د دې پرته ځينې علماء پر اسقاط الوسائط او شطحات پټه خولۀ دي. ملا عبدالسلام عشيزی که څۀ هم د روايتي پير پرستۍ، علماء سوء او د ټولنې د سپين پوښو غلو په ضد يې د قلم له لارې د شعر په ژبه کلکه مبارزه کړې ده او په ډاګه يې دغه ډول خلګ غندلي دي خو بلې خوا ته د خپل نظر خاوند او ځان ته سوچ او فکر لرونکی عالم سړی ؤ چې ډوازې په ړاندۀ تقليد يې تکيه نه ده کړې. د ده له اشعارو څخه څرګنديږي چې دی منصور ابن حسين حلاج لوئ صوفي ګڼي او عقيدت ورته لري حالانکې منصور ابن حسين حلاج ته محتاط علماء کرام په ښۀ نظر نۀ دي کتلي او د شريعت له ليکې څخه يې وتلی ګڼي خو ځينې علماء يې ګرم نۀ ګڼي. ملا عبدالسلام عشيزی د منصور حلاج په حقله وايي:

ولـــــي رحـــــم لاد چــــا نــــــه بانــــــدي راغلــــــئ
حــــق د زړۀ پــــه وينــــو ســــور وکــــيښ حــــلاج (۱۲)

بل ځای يې داسې يادوي:

حــــق و باطـــــل بالکـــــل نــــۀ ځلــــه ببليــــږي
منصــــور هــــم و دار تــــه پورتــــه کــــړ جــــلاد

پــــاکو وينــــو بــــل دغســــي نقــــش وکــــيښ
هــــر حاضــــر نــــارې وهلــــې نــــی فــــواد
خــــاوري هــــم واوړي کيميــــا حــــق اليقــــين شــــي
لکــــه قــــالوا بلــــی والــــوتی فريــــاد

[2] شطحات يا شطحيات هغه غير شرعي کلماتو ته ويل کيږي، کومې چې د يو صوفي څخه د سکر په وخت کښې وتلې وي. لکه د منصور حلاج اناالحق او د شيخ بايزيد بسطامي شطح، سبحانی ما اعظم شانی او داسې نور

چـــــي پــــــرده مښـــــــتې هغــــــو ډبـــــــرو ګـــــــردو
وه لوســــــــت يــــــــو لــــــــك علمــــــــاوو دا اوراد (۱۳)

په تصـوف کښـې ټولـه رياضـت او عبـادت د يـو پيـر کامـل پـه نګرانـۍ کښـې کيـږي. مـلا عبدالسـلام عشـېزی ليکـي چـي پـه تصـوف کښـې پيـر کامـل مونـدل تـر ټولـو ګـران کـار دی. کـه چـرې څـوك پـه رښـتيا پيـر کامـل ومونـدي هغـه د معرفـت پـر سـمه لاړ خپـل سـفر تـه دوام ورکولای شي او په خپل مرام کښې بريالی کېدای هم شي. دی ليکي:

د کامـــــــــل پيـــــــــدا کـــــــــول پټـــــــــه کېميـــــــــا ده
معـــــروف نـــــۀ شـــــو درمعلـــــوم عارفـــــان وايـــــي (۱۴)

په تصـوف يـا طريقـت کښـې د پيـر کامـل لاس مونـدل ډېـر ضـروري ګڼـل کيـږي. نـو مـلا عبدالسـلام عشـېزی هـم د پيـر کامـل څخـه بيعـت کولـو بانـدې زور اچـوي .دی وايـي کـه چـا پير کامل و نه موندئ او په دې لاره يې يون پيل کړئ نو پای به يې بربادي په نصيب وي.

پـــــــه دغـــــــه عصـــــــا بـــــــه ولـــــــويږي و څاتـــــــه
وړانـــــــــده تـــــــــه نـــــــــاروا دئ امامـــــــــت (۱۵)

د پيـر کامـل مونـدلو پـس د سـالك اخـلاص هـم د دې لارې سـفر کولـو دپـاره مهـم ګڼـي او وايي:

هلتـــــــه پنـــــــد اثـــــــر لـــــــري پـــــــر غـــــــافلانو
کـــــــه دننـــــــه مشـــــــك عنبـــــــر شـــــــو مـــــــا و تـــــــا (۱۶)

بل ځای لیکي:

پـــــاك صـــــادق عاشـــــق خـــــالق نـــــه شـــــړي خوشـــــي
کـــــه پـــــه داســـــي خـــــورو نـــــهٔ وو لکـــــه پیـــــاز ډوب (۱۷)

د پښتـو ژبـي لـوی صـوفي شـاعر رحمـا ن بابـا پـه څیـر د مـلا عبدالسـلام عشـېزي شـاعري څخـه دا خبـره نـهٔ ثـابتیږي چـي دی باقاعـده د چـا مریـد پاتـه شـوی دی. او نـهٔ دا معلـومیږي چـي دهٔ د تصـوف تهولـه لاره د پیـر کامـل پـه رهبـري کښـي ترسـره کـړې ده. ځکـه د ده لـه یـو خـاص تصـوفي نظریـې سـره تـړون نـه ښـکاره کیـږي او نـه یـې پـه شـاعري کښـې د تصـوف دقیـق اصـطلاحات پـه نظـر راځـي. د دهٔ پـه تهولـه شـاعري کښـې مـا تـه تـش یـو شـعر پـه مخـه راغلـی دی چـي د نـو افلاطـوني یـا یونـاني فلسـفې پـه خـلاف لیکـل شـوی دی. لـه دې څخـه داسـي ښـکاري چـي دی پـه تصـوف کښـې د فلسـفیانه افکـار نـه منـي او تصـوف تـه پـه یـو خـاص فـریم ورك کښـې ګـوري. یونـاني علـوم د عباسـي خلفـاء پـه وخـت کښـې (656/1258-132/750) پـه عربـي کښـې ترجمـه کېـدل نـو پـه دغـه علومـو کښـې یونـاني فلسـفیانه افکـار هـم وو او نـو افلاطـوني نظریـات پـه دې وخـت کښـې پـه اسـلامي علومـو کښـې را ګـډ کـړل شـوي دي. خـو د دې تـر تهولـو زیـات اثـر پـر تصـوف پریـوتلئ دی. پـه اسـلامي تصـوف کښـې وحـدت الوجـود د یونـاني فلسـفې سـره ډېـره ورتـه نظریـه ده. مـلا عبدالسـلام عشـېزی کـه څـه هـم د یونـاني افکـارو او یونـاني فلسـفې مخـالف دی خـو د نظریـه وحـدت الوجود یـا وحـدت الوجـودي فکـر لرونکـو صـوفیانو مخـالف نـه ښـکاري. لکـه څنګـه چـي مـا پـه تیـرو کرښـو کښـې د منصـور حـلاج پـه مـدح کښـې د ده یـو شـعر پـه ګوتـه کـړئ ؤ. د یونـاني فلسفې په هکله وایي:

قـــــرآن خوانـــــه یوانـــــاني فلســـــفه لـــــولې
نابینـــــا امیـــــان د جهلـــــه څـــــه ورمـــــات دی (۱۸)

مـا تـه دومـره معلومـه شـوې ده چـي د ده د کـورنۍ پیـر غنـي جـان اغـا ؤ خـو لکـه مـا چـي وویـل د ده لـه اشـعارو څخـه داسـي نـه معلـومیږي چـي دی دي باقاعـده مریـد پاتـه شـوئ وي.

کـه چیـري پاتـه شـوئ هـم وي نـو د ذکـر او اذکـارو تـر حـده بـه وي. داسـي نـه ښـکاري چـي باقاعده یې د تصوف مقامات تر سره کړي دي.

داسـي ښـکاري چـي مـلا عبدالسـلام عشـېزي د پښـتو او فارسـي کلاسـیک ادب ژوره مطالعـه کـړې ده. پـه دې سـوب یـې پـر شـاعري د پښـتو کلاسـیکي شـعراء لکـه خوشـحال خـان ختـړك، حمیـد مومنـد او رحمـان بابـا د اشـعارو اثـرات لـه ورایـه ښـکاري. دغـه ډول د فارسـي کلاسـیکي شـعراء مطالعـه یـې هـم کـړې ده او د تصـوف پـه اړه د رحمـان بابـا ، سـعدي شېرازي او مولانا جلال الدین رومي څخه متاثر ښکاري، لکه چي وایي:

د رحمـــــان ربـــــاب وهـــــه عبدالســــلامه!
بلـــبلان بـــه زام د دۀ تـــر نغمـــې جـــار شـــي (۱۹)

بل ځای د شیخ سعدي څخه داسي متاثر ښکاري:

تـــل د دۀ پـــر نغمـــې شـــخول دی د خوبـــانو
فکـــر یـــوورېم و عـــارف تـــه د شـــېراز ډوب (۲۰)

حقـــائق د مولانـــا رومـــي پراتـــه دي
د ســـرو زرو پـــه تـــول ارزي مثنـــوي دا

و امام غزالي او امام رازي ته خپل عقیدت داسې څرګند کړئ دی.

د امـــام غزالـــي تصـــنیف خـــو پـــروت دی
مګـــر فخـــر رازي نشـــته نګهبانـــه (۲۱)

یـو بـل ځـای د هغـه پیـر یـا مرشـد ذکـر کـوي او خوښـوي یـې څـوك چـي پـه قـران عمـل کوونکی وي.

کــــــره فکـــــــر سیاســـــــي قـــــــوي تـــــــدبیر دی
چـــــي قـــــراٰن شـــــریف لــــــري هغــــــه مــــــي پیـــــر دی (۲۲)

د وسـیلې پـه هکلـه پـه اهـل تصـوف کښـې یـو عمـومي رحجـان دی چـې مرشـد د خپـل مرید پـه سـخته کښـې پـه کـار ورشـي او داسـي کیسـې د تصوف پـه کتـابو کښـې ډیـري شـته چې مرشـد د خپـل مرید شـفاعت د اخرت پـه ورځ پـه هـر حـال کښـې کـوي. ځیني صـوفیاء خـو خپـل مریـدان هـم د نـورو خلګـو دپـاره شـفیع ګڼـي. پـه ځینـې کتـابو کښـې "مرشـدانو دا دعـوه پـه خپلـه بـاره کښـې کـړې ده چـې څـوك د دوی لـه زیـارت سـره تېـر شـي د هغـه شـفاعت کـوي یا که د ده له مقبرې سره تېر شي" (۲۳)

د وسـیلې پـه حقلـه د مـلا عبدالسـلام عشـېزي عقیـده د قـرآن او حـدیث موافـق ده چـې تـر ټولـو لویـه وسـیله سـتا ښـۀ عمـل دی. پـه نېـك عمـل کولـو سـره الله پـاك هـر ډول خواشـیني لـرې کـوي. د اسـلامي عقیـدې سـره سـم دی لیکـي چـې الله پـاك هـر ځـای موجـود دی. حاضـر او نـاظر دی او تـر هرڅـۀ مـوږ تـه رانـزدې دی لکـه د قـرآن مجیـد آیـت مبـارك چـې دی: یاایهـا الذین امنوا اتقو الله وابتغوا الیه الوسیلة....(القرآن، سورة المائده، پاره 6، آیت 35.

ترجمه: اې ایماندارو تاسې له خدایه ووېرېږئ او الله تعالی ته واسطه وغواړئ.

وســــــیله نېـــــــك عمــــــــل مــــــــراد دی لــــــــه ایاتــــــــه
را نـــــــژدې نــــــه وینــــــي مـــــــن حبـــــل الوریـــــــد (۲۵)

مـلا عبدالسـلام عشـېزی پـه خپلـه هـم عـالم تېـر شـوی دی او د علمـاوو او ښـو خلګـو قدردان هم ؤ. ځکه یو ځای داسې وایي:

چــــــي ســــــړی پــــــر بزرګـــــــانو بهتـــــــان وایــــــي
دا خبیبــــــث نــــــامرده عیــــــب د ځــــــان وایــــــي (۲۶)

خو دی ډېر په افسوس وايي چي نن په موږ کښې د عمل کمي ده. د تحصيل علم پس زموږ په ژوند کښې او پر ټولنه يې اثرات نۀ ښکاري. دی وايي:

حديث، فقه، تفاسير، تصوف وايو
کل درسونه بې عمله مسلې دي(۲۷)

لکه ما چي وويل چي ملا عبدالسلام عشېزي يوازې د پيرنګي په ضد مبارزه نۀ وه پيل کړې بلکې د هر چا ناوړه عمل چي د شريعت خلاف ؤ او ټولنه ته يې زيان رساوۀ، دۀ د شعر په ژبه په ډاګه غندلی دی. دی په خپلو اشعارو کښې د جعلي پيرانو، جعلي ملايانو او د انګرېزانو ټوك خورو ملکانو اصل بڼه و اولس ته په دې ډول معارفي کوي:

ما غزا تر دې پخوا په ګډوله
مشران پر سجده ورته پراتۀ دي(۲۸)

بل ځای وايي:

نا خبره پښتانۀ بې نوره زړونه
خطا وزي په سر بيره خېمو سپينو (۲۹)

بيا وايي:

پير کالي لکه رهزن د مريد کاږي
زام ګټي دواړه دنيا و اخرت (۳۰)

د تصوف له اساسي اصولونو څخه يو اصول دا هم دی چي شخصيت پرستي له مينځه يوسي. يعني د شريعت په دائره کښې دننه د چا عزت او قدر کول په کار دی. د

دې مثال مونږ ته د نبی صلی الله د وفات په وخت پيښې شوي کيسې څخه معلومیږي چې خلاصه يې داسې ده. کله سردار دوجهان، ياني هغه هستي روح له جسد خاکي مبارك څخه ولاړئ او امام الانبياء حضرت محمد صلی الله عليه واله وسلم له عارضي دنيا څخه پرده وکړه. د دې خبري په اوريدو سره ټول صحابه کرام ډېر زيات خواشيني وو. په دې حال کښې حضرت عمر رضی الله تعالی توره راواخيستله او په زوره يې وويل "که هر چا وويل چي نبی عليه السلام وفات شو، سر به ورپرې کړم." دا خبره حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه واوريدله. ده خلك راوبلل او خبره يې ورته وکړه "د چا خدای چي محمد صلی الله عليه واله وسلم ؤ، نو هغه وفات شو، ليکن د چا خدای چي الله تعالی دی، هغه ژوندی دی او ابدالاباد به ژوندی وي." دا خبره د تصوف امام کوي. د دې مطلب دا دی چي د شخصيت پرستي دپاره په تصوف کښې هيڅ ځای نشته. په پښتني ټولنه کښې دغه شخصيت پرستي د پير پرستۍ په نامه د ملا عبدالسلام عشيزي په وخت کښې ډېره وه. له دې سوبه زمونږ ټولني ته په مجموعي توګه زښت زيات زيان رسېدلئ دی. ملا عبدالسلام عشېزی يې ځکه غندنه کوي او و ناخبرو او ناپوه پښتنو ته د دوئ دغه عمل په ډاګه کوي. دی وايي:

و اميانو ته ټګ داسې معلوميږي
لکه شيخ ابراهيم بن ادهم (۳۱)

بل ځای وايي:

خدای زوی نۀ بخښي په پلار او په اجدادو
دا ړاندۀ مريدان خوشي برهان وايي (۳۲)

په طلب مذهب کښې يو ځای د پيرۍ او مريدۍ داسې انځور ګري کړې ده:

پيــــري هـــــم لويــــــه طريقــــه ده :: نـــــن ورماتــــــه خلقـــــه ده
و اميـــانو تـــه ږدي لـــومې :: منــــدېږ هـــر شـــی پـــه خپـــل کـــومي (۳۳)

**نتيجه**:

مـلا عبدالسـلام عشـېزی دخپـل وخـت دانشـور، اديـب او عـالم ؤ. د ده پـه وخـت کښـې پښـتون قـام دنـن ورځـې پـه مقابلـه کښـې پـه فکـري، سياسـي، معاشي،معاشرتي او مـذهبي لحـاظ ډېـر پاتـه ؤ. د دې پرتـه د پاکسـتان تـر جوړېـدو پـوري د انګرېزانـو پـه غلامـۍ کښـې وو. دا خـو ښـکاره غلامـي وه چـي د انګرېزانـو د منشـاء پرتـه يـې هـيڅ نـه شـو کـولاۍ خـو افسـوس د اسـلام پـه بڼـه کښـې چـي دوی تـه د طريقـت کـوم درس ورکـول کېـدۍ، او پـر قـدم قـدم زيارتونـه او د پېـرۍ او مريـدۍ کاروبـار جـوړ ؤ، دې هـم د دې ځـای پښـتانه پيـر پرسـته او تـوهم پرسـته جـوړ کـړي وو. پيـر چـي بـه څـه ويـل هغـه تـه د دې سـيمي او د دې شـاوخوا سـيمو ټـول پښـتانه مـات وو. مـلا عبدالسـلام عشـېزي چـي پـه کومـه سـيمه کښـې ژونـد کـړۍ دی، پـه دې سـيمه کښـې مـا درې کالـه تېـر کـړۍ دي. نـو مـا خپلـه دا ليـدلي دي، چـي د دې سـيمي اوسـيدونکي چـي زيـاتره اڅکـزي دي. کـاکړان ، ترينـان او خـال خـال سـيدان هـم پـه کښـې دي، اکثـره پيـر پرسـته دي. پـه زياتـه اڅکـزي د پيـر تـر خولـه نـه وزي. د دې سـوب دا کېـداۍ شـي چـي پـه دې سـيمه کښـې عصـري تعلـيم د نـورو پښـتنی سـيمو پـه مقابلـه کښـې ډېـر لـږ دی. نـو ځکـه دا ناخوانـد خلـګ يـې خصوصـاً د پيـر ډېـر شـاکره دي. و پيرانـو تـه غاليانـه عقيـدت لـري او د پښـتو دا متـل چـي" پيـر نـه الـوځي مريـدان يـې الوځـوي"، پـه سـهېلي پښـتونخواه کـه څـه نـور پښـتانه هـم پير پرسـته دي خـو پـر دې سيمه دا متـل پـوره خيږي.

پـه عبـدالله خان(قلعـه عبـدالله) کښـې د پيرانـو د بزرګـۍ پـه هکلـه د نـورو مشـهورو خبـرو پرتـه يـاني کـومي خبـري چـي پـه نـورو پښـتنی سـيمو کښـې هـم مشـهوري دي، لکـه چـي وايـي فلانـی پيـر الـوتۍ، يـا فلانـی پيـر حـج تـه نـه ؤ تللۍ خـو حاجيـانو پـه مکـه کښـې ليـدلۍ وو چـي طـواف يـې کـولی او يـا دا چـي پيـر خپـل سـر پـه لاس کښـې را اخيسـتۍ ؤ. لـيکن مـا يـوه خبـره د دې سـيمو لـه ډېـري خلګـو څخـه اورېـدلې ده چـي خواجـه عمـران بابـا نهـه ګـزه اوږد دی. عبـدالحی حبيبـي د پښـتو ادبيـاتو تـاريخ کښـې داسـي ليکـي: " شـيخ متـې دوه نـور ورونـه هـم درلـودل چـي حسـن او امـران نومېـدل. د امـران مـزار تـر اوسـه د کـوږك پـر غـره دی." (۳۴)
دا خـو پـه تـاريخي حوالـه ثابتـه شـوه چـي خواجـه عمـران د ستانه او ښـې کـورنۍ څخـه دی او شـيخ متـې د ده ورور دی. خـو د زيـات عقيـدت لـه وجـې څـه داسـي خبـري هـم د ده لـه

شخصیت سره تړل شوي دي چې هغه حقیقت نه لري. نو له دې څخه معلومیږي چې په دغه پښتنۍ سیمو کښې پیر پرستي زیاته ده.

زه په خپله په ۲۰۰۳ء کښې خواجه عمران بابا مرقد ته تللئ یم. دا قبر د کوږك غره پر سر له سپیني تیږي نومي علاقې سره دی. ما هغه قبر لیدلئ دی چې شپږ نیمه ګزه پوري دی. چې د ډېرو څخه جوړ دی.

بله خبره چې د خواجه عمران بابا سره تړل شوې ده هغه دا ده چې د ده له قبر سره یوه سروۍ ډېره ده. دا مشهوره ده چې تر دې ډېره ګناه ګاره سړی نه شي وتلای چې د دې هم له حقیقت سره هیڅ تعلق نشته.

ملا عبدالسلام عشېزي ته موږ د دې سیمي دپاره دخپل وخت لوی عالم، مبلغ، مبارز او دانشور ویلای شو. چې و خپلو پښتنو ورڼو د اصلاح هڅې یې هم کولې او د بیواني دشمن چې پښتون وطن یې قبضه کړئ ؤ، دهغه خلاف یې هم خپله مبارزه توده ساتلې وه. ډېر زیات اشعار یې د دوی په مخالفت کښې ویلي او د وخت قابض حکمران په زړه کښې ازغي ؤ. ځکه یې دا دستار هم ورپه برخه شو چې کتاب یې ور وسوځلئ. خو افسوس پښتانه د ګوره ملګري وو یا یې د دوی له وېري څه نه شو ویلای.

دا خبره د یادوني وړ ده چې ملا عبدالسلام عشېزی د ترقۍ مخالف هیڅ کله نه. ده په خپلو اشعارو کښې دا خبره واضح کړې ده چې د فن زده کړه ډېره ضروري ده. څه عصري علوم او فنون چې دي، د هغو د زده کړې دپاره یې خپل اولس پارولئ دی. بلکې د دوئ بریالیتوب یې له دې سره تړلئ دی. ملا عبدالسلام عشېزی په دې هکله لیکي:

حکمت وایه که اسلام ازادي غواړې
زه دا نه وایم چې عقل او فن پرېږده (۳۵)

ده د عالم حق او موحد کردار یې لوبولی دی او تصوف یې په خپله اصله جامه کښې عملي کولو هڅه کړې ده. د تعویز ګرانو او جعلي پیرانو کلکه غندنه یې کړې ده او اولس ته یې د هغو اصلي بڼه ورپه ګوته کړې ده. د اولس اجتماعي خودي راژوندۍ کولو هڅه یې کړې ده. د هغو افکارو او نظریاتو غندنه یې هم کړې ده کوم چې په تصوف کښې را دننه کړل شوي دي او تصوف ته یې نقصان رسولئ دی.

## حوالې

(1) عشـېزی، مـلا عبدالسـلام، سوسـن چمن، خپرونکـی شـمس طـالع، تـاریخ اشـاعت ندارد ، مخ ۳۸
(2) ایضاً، مخ ۳۲۶
(3) صـادق، پروفیسـر محمـد ، فارسـي کـے عظـیم صـوفیائے کـرام، علـي فریـد پرنټـرز، لاهور، مخ۹
(4) عشـېزی، مـلا عبدالسـلام، خپرونکـی شـمس طـالع ، تـاریخ اشـاعت نـدارد ، سوسن چمن، مخ ۳
(5) ایضاً ، مخ ۲۹
(6) ایضاً، مخ ۱۸، ۱۹
(7) ایضاً، مخ ۴
(8) قران کریم، پاره نمبر... ، سوره نمبر... ، ایت نمبر...
(9) ایضاً، ایت نمبر....
(10) لـون، ډاکټـر غـلام قادر، مطـالعه تصـوف قـران و سـنت کـی روشـنی مـیں، امـن پبلیکیشنز لاهور، اشاعت دوم، مخ ۳۸۸
(11) ایضاً، مخ ۴۱۳
(12) عشـېزی، مـلا عبدالسـلام، خپرونکـی شـمس طـالع ، تـاریخ اشـاعت نـدارد ، سوسن چمن، مخ ۴۹
(13) ایضاً، مخ ۶۳
(14) ایضاً، مخ ۲۸۳
(15) ایضاً ،مخ ۳۸
(16) ایضاً،مخ ۲۲
(17) ایضاً،مخ ۲۹
(18) ایضاً، مخ ۳۲۱
(19) ایضاً، مخ ۲۷۰
(20) ایضاً، مخ ۲۹
(21) ایضاً، مخ ۲۰۳

(22) ایضاً، مخ ۲۷۶

(23) لـون، ڈاکٹـر غـلام قادر، مطـالعہ تصـوف قـران و سـنت کـی روشـنی مـیں، امـن پبلیکیشنز لاهور، اشاعت دوم، مخ۱۰۱

(24) قران کریم، پاره نمبر....، سوره نمبر....، ایت نمبر...

(25) عشـیزی، مـلا عبدالسـلام، خپرونکـی شـمس طـالع ، تـاریخ اشـاعت نـدارد ، سوسن چمن، مخ ۶۱

(26) ایضاً، مخ ۲۸۳

(27) ایضاً، مخ ۲۶۷

(28) ایضاً، مخ ۳۱۸

(29) ایضاً، مخ ۱۵۸

(30) ایضاً، مخ ۳۲

(31) ایضاً، مخ ۱۴۳

(32) ایضاً، مخ ۲۸۳

(33) عشیزی، ملا عبدالسلام، طلب مذهب، تاریخ اشاعت... مخ ۶۳

(34) حبیبـي، عبـدالحی ، د پشـتو ادبیـاتو تـاریخ، اشـاعت ۲۰۰۵ ، دانـش خپرندویـه ټولنه، مخ ۵۳۳

(35) عشـیزی، مـلا عبدالسـلام، خپرونکـی شـمس طـالع ، تـاریخ اشـاعت نـدارد ، سوسن چمن، مخ ۱۸۸